مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوحید وحید
۲۰۲۶/۰۷/۲۶

# د سوداګریزو لارو تنوع زموږ د خپلواکي ګراف لوړوي

په دې وروستیو کې د ترکمنستان او ایران له لارې هرات ته د چینايي بار وړونکي اورګاډي رسېدل یوازې یو سوداګریزه لیږدونه نه ده؛ بلکې د افغانستان د اقتصادي جغرافیې او سیمه‌ییزې نښلوني په برخه کې د پام وړ بدلون د رامنځته کېدو پیل ګڼل کېږي. په داسې حال کې چې د امریکا او ایران ترمنځ د نښتو له امله د خلیج له لارې سمندري سوداګري له ګډوډیو سره مخ ده او پاکستان د ډیورنډ کرښې پر مهمو لارو په تکراري توګه بندیزونه لګولي، ددغې نوي لارې پرانستل یقیناً د افغانستان لپاره اهمیت لري.

اوس د بدیلو دهلېزونو له لارې د توکو لېږد ښيي چې افغانستان د بهرني فشارونو پر وړاندې د تیارۍ او مقاومت وړتیا زیاته کړې ده. له دغو ننګونو سره سره په افغانستان کې د لومړنیو اړتیا وړ توکو د زیات کمښت نه رامنځته کېدل ‌ څرګندوي چې هېواد مو نور د یوې ځانګړې سوداګریزې لارې له ګډوډیو سره دومره زیانونه نه ویني څومره چې پاکستاني پالیسي جوړوونکو اټکل کاوه.

له څو لسیزو راپدېخوا د افغانستان بهرنۍ سوداګري تر ډېره د پاکستان له بندرونو څخه د ترانزیټ پر لارو ولاړه وه. دغه وضعیت اسلام‌اباد ته د پام وړ اقتصادي برلاسی ورکړی وو او د پاکستان د ځینو پالیسي جوړونکو ترمنځ یې دغه باور پیاوړی کړی وو چې په افغانستان باندې د ترانزیټي لارو محدودول کولای شي کابل سیاسي جوړجاړي ته مجبور کړي، خو داسې هیڅ ستونځه رامنځته نشوه. اوس سیمه‌ییز واقعیتونه په پراخه کچه بدل شوي دي. د زېربناوو پراختیا، نوې ملګرتیا وې رامنځته کېدل او پراخېدونکو اقتصادي اړیکو د افغانستان ستراتیژیک چاپېریال بدل کړی دی.

د افغانستان تاریخ هم ګواه دی چې بهرني فشارونه په دغه هېواد کې سیاسي اطاعت نه شي رامنځته کولای. برعکس، د افغانانو په وړاندې د زور او جبر ګامونه پورته کول د ولس په زړونو کې ملي ویاړونو احساس پیاوړی کوي او افغانان دې ته هڅوي چې مقاومت وکړي، بدیلې ملګرتیاوې ولټوي او ستراتیژیکه خپلواکي ترلاسه کړي. د سوداګرۍ او ترانزیټ پر وړاندې تکراري محدودیتونو افغان پالیسي جوړونکي او سوداګر دې ته وهڅول چې پر یوې ځانګړې لارې د اتکا کچه راکمه کړي او داسې اقتصادي اړیکې رامنځته کړي چې زیات مقاومت او ثبات ولري. لنډه دا چې فشار ډېری وخت د دې پر ځای چې وابستګي زیاته کړي، د بدلون او تنوع سبب شوی دی.

په وروستیو کلونو کې افغانستان په تدریجي ډول خپلې سوداګریزې اړیکې د ایران، مرکزي اسیا او چین له لارې پراخې کړې دي. دغه بدیلې لارې د پاکستان جغرافیايي اهمیت له منځه نه وړي او نه هم دغه دودیزې لارې بې ارزښته کوي. پاکستان لا هم یو مهم ګاونډی او ترانزیټي ملګری دی. خو افغانستان نور په یوه ځانګړي هېواد باندې د متکي پاتې کېدو لاره پرېيښې ده. د ګڼو سوداګریزو دهلېزونو رامنځته کېدو د هېواد اغېزمن کېدل کم کړي او د بهرني فشارونو پر وړاندې یې د مقاومت وړتیا پیاوړې کړې ده.

هرات ته د چینايي اورګاډي رسېدل د همدغه پراخ بدلون نښه ده. دا په سیمه‌ییزو سوداګریزو شبکو کې د افغانستان د تدریجي ادغام څرګندونه کوي او ښئي چې سوداګر او پالیسي جوړونکي په ګډه د لا باورې لارو، متنوع اکمالاتي او انتقالاتي ځنځیرونو د رامنځته کولو هڅه کوي. د پاکستان له لارې د ترانزیټ په برخه کې د پالیسي له مخې رامنځته کېدونکو ستونځو او د دروازو تړل افغان سوداګر وهڅول چې پر یوه ځانګړې لاره خپله زیاته اتکا راکمه کړي او په هغو بدیلو لارو باندې پانګونه وکړي چې زیات ثبات، د وړاندویني وړتیا او مقاومت ولري.

دغه پرمختګ هغه انګېرنه هم غلطه ثابتوي چې اقتصادي فشارونه په اتومات ډول کابل د سیاسي امتیازاتو ورکولو ته مجبوروي. تاریخ په خپله سینه کې د داسې ډېرو واقعیتونو ثبت لري چې هغه هېوادونه چې له بهرني فشار سره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مخ کېږي، ډېری وخت د تسلیم کیدو پرځای د مقاومت لاره غوره کوي؛ په ځانګړې توګه هغه مهال چې خبره له حاکمیت او ملي ګټو سره تړاو ولري. د افغانستان په قضیه کې، د پاکستان لخوا د سوداګرۍ او ترانزیټ په برخه کې تېل شوي یو اړخیزو محدودیتونو د دواړو هېوادونو ترمنځ ستراتیژیکي اختلافات له منځه نه دي وړي؛ بلکې د بدیلو ملګرتیاوو د پراختیا او اقتصادي مقاومت د پیاوړتیا هڅې یې ګړندۍ کړې دي.

که دغو بدلونونو ته له پراخې ستراتیژیکې زاویې څخه وګورو، نو دغه موضوع د نفوذ د منطق ناکامه او له تاریخ څخه تیره نسخه وړاندې کوي. نفوذ هغه مهال تر ټولو اغېزمن ثابتېدای شي چې بدیلونه محدود او یا هم شتون ونلري. کله چې فشار تکراري، نو د وړاندوینې او د د اټکل وړ شي، اغېزمن شوی لوری د داسې بدیلو لارو په موندلو پانګونه کوي چې په فشار اچوونکي اړخ باندې خپله تکیه کمه کړي. د اقتصادي فشار تکراري کارونه په تدریجي ډول هغه نفوذ کمزوری کوي چې د ساتلو لپاره یې دغه فشار کارول کېږي. د ایران، مرکزي اسیا او چین له لارې د افغانستان پراخېدونکي سوداګریز دهلېزونه د همدې ستراتیژیک تضاد بېلګه ده.

په ورته وخت کې، په افغانستان باندې د لارو او سوداګریزو چارو بندیزونو پاکستان ته هم اقتصادي زیانونه اړولي دي. صادرونکي، د ترانسپورټ شرکتونه او هغه سیمه‌ییزې ټولنې چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ په برخه کې فعالیت درلوده، له تکراري ګډوډیو څخه اغېزمنې شوې دي. دغه حالت د پاکستان پر هغه پراخ هدف هم اغېز کوي چې غواړي د افغانستان او مرکزي اسیا د نښلولو لپاره یو سیمه‌ییز سوداګریز دهلیز وګرزي. باوري سوداګریزې لارې ثبات او باور ته اړتیا لري؛ تکراري بندیزونه د سوداګرو او پانګه‌والو باور کموي.

په سیمه ییزه توګه بدلېدونکي واقعیتونه ښیي چې د افغانستان او پاکستان اړیکې نور د یو اړخیزې تکیې له نظره نشي ارزول کېدای، بلکې دغه اړیکې د دوه اړخیزې تکیې پربنسټ ولاړې دي؛ داسې حالت چې دواړه هېوادونه د نفوذ مهمې سرچینې لري، خو هېڅ یو د بل پر وړاندې پرېکنده اقتصادي برلاسی نه لري. جغرافیه د تلپاتې تعامل اسانتیا برابروي، خو تلپاتې نفوذ په موقتو فشارونو نه بلکې په زیاته کچه پر دوه اړخیزې هکارۍ، باور او متقابل اعتماد ولاړ دی.

په پاکستان باندې د افغانستان د اقتصادي تکیې کمېدو ته په کتو د پاکستان لپاره اوږدمهاله اغېزمنه تګلاره دا ده چې امنیتي اندېښنې له اقتصادي همکاریو، ثابتو ترانزیټي پالیسیو او سیمه‌ییزې نښلونې سره یوځای کړي. باوري سوداګریزې اړیکې او پانګونه د تکراري محدودیتونو په پرتله د پاکستان سیمه‌ییز رول زیات پیاوړی کولای شي. یو باثباته او له اقتصادي پلوه نښلول شوی افغانستان به د پاکستان ګټو ته له هغه افغانستان څخه ډېر ژمن پاتې شي چې له تلپاتي امنیتي او اقتصادي فشارونو سره مخ وي.

د افغانستان لپاره لومړیتوب باید د متنوع سوداګریزو لارو او له ټولو ګاونډیانو سره د انډولیزو اړیکو له لارې د ستراتیژیکي خپلواکي پیاوړتیا وي. تنوع باید د دې معنا ونه لري چې په یوه هېواد باندې تکیه کمیدل په بل هېواد پورې اقتصادي تړل رامنځته کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ